# Family Assessment Response (د کورنۍ د ارزونې ځواب، FAR)

د کورنیو د ملاتړ او ځواکمنولو لپاره د *CPS* تسهیلاتي لار



Washington State Department of
CHILDREN, YOUTH & FAMILIES



## که چېرې زه د خپلې دوسیې په اړه اندېښنه ولرم نو د چا سره به اړیکه نیسم؟

که چېرې تاسو خپلې دوسیې سره د برخود په اړه شکایت یا اندېښنه موجوده وي، خپل د FAR د دوسیې د مسؤل څارونکي سره په اړیکه کې شئ.

که چېرې پدې سره هم ستاسو اندېښنه نه رفع کېږي کولای شئ سیمه ئیز مدیر ته زنګ ووهئ.

تاسو کولای شئ په هر وخت کې د مرستې په موخه د 1-800-723-4831 شمېرې له لارې Office of Constituent Relations (د مؤکل د اړیکو اداره) ته زنګ ووهئ.

-یا-

کولای شئ د کورنیو او ماشومانو دفتر Office of the Family & Children Ombuds (د کورنیو او ماشومانو د شکایت اورېدنې اداره) ته 1-800-571-7321 شمېره زنګ ووهئ.

*دغه استازولي له *DCYF* څخه جلا ده. د استازولۍ دنده دا ده چې د *DCYF* په اړه اندېښنې وڅېړي.

که چېرې تاسو د دغه سند کاپي په نورو فارمټونو یا ژبو کې غواړئ، مهرباني وکړئ د *DCYF Constituent Relations* (د *DCYF*د موکل اړیکې) سره د *(1-800-723-4831 | 360-902-8060,* ***ConstRelations@dcyf.wa.gov****)* له لارې اړیکه ونیسئ.

DCYF PUBLICATION CWP_0023 | DSHS 22-1534 PS (07-2021) Pashtu



## ولې زه د کورنۍ ارزونې ځوابون Family Assessment Response (د کورنۍ د ارزونې ځواب) ترلاسه کوم؟

- Department of Children, Youth, and Families (د ماشوم، ځوان او کورنیو ریاس (DCYF, ستاسو د ماشوم د مصؤنیت په اړه راپور ترلاسه کړ.
- دغه راپور په Washington ایالت (RCW 26.44.020) ې د ماشوم ځورونې او هغه ته د بې توجهۍ د تعریف سره مطابقت درلود.
- په راپور کې داسې کوم څه نه وو لیکي چې ستاسو ماشوم د کوم جدي ګواښ سره مخ وي.
- DCYF غواړي تاسو سره کار وکړي ترڅو ستاسو د ماشوم په خوندي ساتلو کې مرسته وکړي.



## Family Assessment Response (د کورنۍ د ارزونې ځواب) څه ته وايي؟

FAR د په واشنټن ایالت کې د ماشومانو د خوندي ساتنې د خدماتو لپاره یو مختلفه لاره ده ترڅو د ماشومانو د ځورونې او نه پاملرنې په اړه راپورونو ته ځواب وړاندې کړي. له FAR مخکې، CPS د یوې څېړنې له مخې د ماشومانو د ځورونې او هغوی ته د نه پاملرنې په اړه ورکړل شویو راپورونو ته ځواب وړاندې کړ.

### FAR د کورنیو سره کار کوي ترڅو:

- هغوی سره د کړکېچنو حالاتو پرمهال چې د خپل ماشوم د ځورونې یا هغوی ته د نه پاملرنې په برخه کې د مسؤلو والدینو د نه شتون په صورت کې، مرسته وکړي.
- هغوی سره مرسته وکړي چې د ټولنې سره په اړیکه کې شي.

### څېړونکي او د FAR د دوسیې مسؤلین دواړه:

- د کورنیو سره کار کوي ترڅو ماشومان خوندي وساتي.
- د کورنیو اړتیاوې په نښه کړي.
- ترڅو د والدینو او ټولنې لپاره ځواک او منابع رامنځ ته کړي.
- خدمات پیدا او هغه سخت شرائط آسانه کړي چې د ماشومانو په اړتیاو باندې تمرکز کول سخت ستونزمن کوي

### څېړنې:

- مشخصوي چې آیا د ماشوم ځورونې یا هغوی ته د نه پاملرې پېښه رامنځ ته شوې که څنګه
- مشخصوي چې د ځورونې یا نا پاملنې مسؤل څوک دی.  دا موضوع د DCYF په سوابقو کې ثبتېږي، او کېدی شي په راتلونکې کې د مشاومانو یا ترګواښ لاندې کسانو سره په کارونو باندې اغېز ولری.



## د کورنۍ ارزونې ځوابونه Family Assessment Response (د کورنۍ د ارزونې ځواب) څنګه کار کوي؟

که چې DCYF ستاسو د کورنۍ په اړه راپور ترلاسه کوي، د FAR لخوا د دوسیو مسؤل به تاسو سره ستاسو د ماشوم د خوندیتوب په اړه لیدن وکړي.

د دوسیې مسؤل به تاسو سره کار وکړي ترڅو تصمیم ونیسي چې آیا تاسو خدماتو یا ملاتړ ته اړتیا لرئ که څنګه ترڅو د راتلونکې لپاره ستاسو ماشوم ته متوجه ځورونه او بې توجهي را ټیټه کړي. ستاسو د دوسیې مسؤل به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو د خپلو ستونزو او ننګونو په اړه مبارزه وکړئ.

د FAR ډېری دوسیې به په 45 ورځو کې وتړل شي. که څه هم تاسو او د FAR د دوسیې مسؤل کولای شي ستاسو دوسیه د 120 ورځو لپاره پرانیستې وساتي، ترڅو وګوري چې آیا دا به د هغو خدماتو د دوام لپاره مفید وي که څنګه چې تاسو یې ترلاسه کوئ.

### تاسو لاندې انتخابونه لرئ:

- تاسو کولای شئ په FAR
  د ګډون په موخه انتخاب وکړئ -یا-
- تاسو کولای شئ د CPS په دودیزو څېړنو کې انتخاب وکړئ

که چېرې تاسو د خپلې کورنۍ د اړتیا وړ خدماتو په اړه د FAR د دوسیې د مسؤل سره موافقه نه لرئ، کولای شئ د FAR د کارمندانو سره د ناستې غوښتنه وکړئ ترڅو د نورو انتخابونو په اړه بحث وکړئ.

**ستاسو د دوسیې مسؤل به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو د خپلو ستونزو او ننګونو په اړه مبارزه وکړئ.**

## د کورنۍ ارزونې ځواب Family Assesment Response (د کورنۍ د ارزونې ځواب) څنګه کولای شي ماسره مرسته وکړي؟

تاسو خپل او د خپلې کورنۍ اړتیاوې پېژنئ. ستاسو د FAR د دوسیې مسؤل به تاسو سره کار وکړي ترڅو:

- مشخصه کړئ چې څنګه په کور کې د خپل ماشوم په مصؤنیت کې بهبود رامنځ ته کړئ.
- د خپلې کورنۍ اساسي اړیتاوې پوره کړئ.
- هغه مهارتونه لوړ کړي چې تاسو او ستاسو د هر عمر لرونکو ماشومانو سره په هره برخه کې مرسته وکړي.
- د خپلې ټولنې سره ژورې اړیکې رامنځ ته کړئ.
- د همېشنیو ننګونو لکه مسکن، کار یا ټولو هغو موضوعاتو لپاره منابع او ټولنیز مربیان پیدا کړي چې ستاسو او ستاسو د کورنۍ لپاره یې سرخوږی رامنځ ته کړی.

**موږ به په ګډه سره ستاسو د ماشومانو د خوندي ساتلو په برخه کې د خود کافیۍ او مهارتونو رامنځ ته کولو لپاره کار وکړو.**